**بسم الله الرحمن الرحيم**

## اولادونو ته مو په اوه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ!

عمرو بن شعیب له خپل پلار او هغه له خپل نیکه څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**مُرُوا صِبْيَانَكُمْ بِالصَّلَاةِ لِسَبْعٍ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ، وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ**» (رواه ابو داود)

***ژباړه:*** *اولادونو ته مو په اوه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ. په لس کلنۍ کې یې (د لمانځه د ترک له امله) ووهئ او د ویده کیدو ځای یې جلا کړئ.*

**د حدیث شرحه**

د ماشوم په ژوند کې د ماشومتوب مرحله ډیره مهمه ده. په دې مرحله کې د ماشوم د شخصیت اساس پوره کېږي او هغو افکارو او مفاهیمو ته ځیر کیږي، چې په راتلونکي کې ورسره مخ کیږي، یا نېکمرغه کیږي یا هم بدمرغه شخص ترې جوړیږي. ځیني وخت د پاخه عمر کسان وینو، چې ناروا کارونه کوي، له ځان څخه دا پوښتو چې څنګه دا عمل ترې کېږي؟

خو دا د حیرانتیا ځای نه دی، دا ټول اولاد ته د نه پاملرنې او پر وړاندې یې د مسوولیت نه اداینې له امله دي. پلرونو او ښوونکو ته ښایي چې له خپلو اولادونو سره د چلند او تربیې پر مهال، چې کله د ماشوم کومه تېروتنه ویني باید له اړینو کړنلارو څخه کار واخلي. د حیرانتیا وړ ده، چې ځیني پلرونه د خپلو اولادونو د نیکمرغۍ او بریالیتوب لپاره تل د مال په راټولولو بوخت وي. پلار اصلاً د اولاد په بدو اخلاقو او عاداتو لکه لمونځ نه کول، قرآن باندي نه پوهیدو ته هېڅ پام نه لري.

**ای مسلمانانو!**

د اولاد په روزنه کې باید لومړی د عقیدې اړوند مهم مسایل ور زده شي، څو په نفسونو کې یې د عقیدې اهمیت روښانه شي وروسته باید لمونځ ور زده شي او وروسته باید اسلامي اخلاق ور زده شي، په دې ډول الله سبحانه وتعالی هر شخص ته مسوولیتونه وردې غاړې کړي دي. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي «تاسې ټول د چوپان غوندې تر خپل لاس لاندي کسانو مسوولین یاست» د دې شرعي حکم او حقیقت په نظر کې نیولو سره، د پوښتنې په ډول له مسوولینو پوښتو: کله چې سهار کېږي، پلار څنګه تر خپل لاس لاندي

کسانو پر وړاندي مسوولیت ادا کوي؟ اولادونه خپل مسوولیت څنګه ادا کوي؛ په داسي حال کې چې پلار یې خپله مسوولیت نه پېژني؟

یو مشهور مثال دی، څوک چې څه نه لري بل ته به څه ورکړي. هغه پلار چې خپل مسوولیت نه پیژني، څنګه کولای شي خپل زوی ته په لمانځه امر وکړي او د لمانځه د ترک په خاطر پوښتنه ترې وکړي او سزا ورکړي. په داسي حال کې چې پخپله پلار یې دې ته اړتیا لري، څو یې لاسنیوی وشي او لارښوونه ورته وشي. په اوسنیو شرایطو کې انټرنېټ، فېسبوک او ... ځوانانو ته خنډ ګرځېدلی. له دغو وسایلو خلاصون هم ناشونی دی. ځوانان خپل وخت ورباندې ضایع کوي، نه لمانځه ته پام ساتي او نه یې کتاب الله (قرانکریم) لولي. د مسلمانانو لپاره دا حالت د اندېښنې وړ دی.

هو! له ژوند څخه د اسلامي احکامو لرې کېدو د امت حالت د ځارویو په شان کړی دی، چې له لړو کسانو پرته نور ټول بې له پوهې، فکر او مسوولیت نه منلو ژوند تېروي. دا ټول د هغه راعي (مسوول) نه مجودیت دی، چې د پوهې، فکر او ایمان فضا، د امت لپاره جوړوي. نو د داسې راعي (مسوول) را منځ ته کول ډېر مهم او لوی عمل دی. د هغه په رامنځ ته کولو کې باید هڅه وکړو.

یا الله! موږ د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت څخه برخمن کړې، چې د مسلمانانو وحدت پکې نغښتی وي.

اللهم آمین!